***په متحده ایالاتو کې د کورني تاوتریخوالی ښکار خلکو ته د موجوده قانوني حقونو په اړه معلومات او د واده پر بسنټ ویزې باندې د مهاجرت کولو په اړه حقایق***

***موخه:***

مهاجرین په ځانګړې توګه حساس دي ځکه چې ډیری یې په انګلیسي خبرې نه کوي، ډیری وختونه د کورنی او ملګرو څخه جلا شوي، او ممکن د متحده ایالاتو په قوانینو نه پوهیږي. د دې دلیلونو له امله، مهاجرین اکثر پولیسو ته د کورني تاوتریخوالی د کړنو راپور ورکولو یا د مرستې نور ډولونو غوښتلو څخه ویره لري. دا ډول ویره ډیری مهاجرین په سپکوونکي اړیکو کې د پاتې کیدو لامل کوي.

دا پمفلیټ به کورنی تاوتریخوالی په باره کې بیان کړي او تاسو ته به په متحده ایالاتو کې د خپل قانوني حقونو څخه خبر کړي. د واده د دلالانو مقرراتو نړیوال قانون (IMBRA) غوښتنه کوي چې د متحده ایالاتو دولت د متحده ایالاتو ته مهاجر بهرني ودګټی (ودګنو) او میرنو یا میرمنو ته د دوی د قانوني حقونو په اړه معلومات او همدارنګه د دوی د متحده ایالاتو د ښاری ودګنو او میرنو یا میرمنو جرمي یا کورني تاوتریخوالي تاریخونه چمتو کړي. د IMBRA یو هدف د مهاجرت کونکو ودګنی(ودګنو) او میرنو یا میرمنو ته د مهاجرت پروسې په اړه دقیق معلومات چمتو کول دي او که چیرې د دوی خپلوي ناوړه شي نو مرستې ته څنګه لاسرسی موندلي شي.

***کورنی تاوتریخوالی څه شی دی؟***

کورنی تاوتریخوالی د چلند یوه نخښه ده کله چې یو نږدې شریك یا میره یا میرمن بل شریك ګواښ کوي یا ناوړه ګټه ترې پورته کوي. ناوړه ګټه اخیستنه کې ممکن فزیکي نقصان، جبري جنسي اړیکي، جذباتي چلند(د جلاتوب یا ډارولو په شمول)، اقتصادي او/یا د مهاجرت اړوند ګواښونه شامل وي. پداسې حال کې چې د کورني تاوتریخوالي په ډیرو ثبت شوي پیښو کې سړي د ښځو یا ماشومانو سره ناوړه چلند کوي، سړي هم د کورني تاوتریخوالي ښکار کیدلی شي.

په کورنی تاوتریخوالی کې ممکن جنسی تیری، د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخیستنه، او نور تاوتریخجني جرمونه شامل وی. جنسي تیری هر ډول جنسي فعالیت دی چې تاسو ورسره موافق نه یاست، حتی ستاسو د میره یا میرمن سره، او د هر چا لخوا ترسره کیدی شي. د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخیستنه کې شامل دي: فزیکي ناوړه ګټه اخیستنه (هر هغه ژوبله چې په ناڅاپي ډول نه پیښیږي، د ډیری سزا په شمول)، فزیکي بې پروایی (د خوړو، سرپناه، طبي پاملرني یا څارنې په چمتو کولو کې پاتې راتلل)، جنسي ناوړه ګټه اخیستنه، او جذباتي ناوړه ګټه اخیستنه (ګواښونه، د مینې، ملاتړ یا لارښود ساتل).

د ټولو شرایطو لاندې، کورني تاوتریخوالی، جنسي تیری، او د ماشومانو ناوړه ګټه اخیستنه په متحده ایالاتو کې غیرقانوني دي. په متحده ایالاتو کې ټول خلک (پرته له توکم، رنګ، مذهب، جنس، عمر، قومیت، یا د مهاجرت وضعیت ته په پام کې نیولو سره) د قانون لاندې د ناوړه ګټه اخیستنې څخه خوندیتوب تضمین شوی. د کورني تاوتریخوالی هر ښکار د مهاجرت یا د تابعیت وضعیت په پام کې نیولو پرته - مرسته غوښتلي شي. د کورني تاوتریخوالي ښکار مهاجر ممکن د مهاجرت خوندیتوب لپاره وړ وي.

که تاسو په خپل کور کې د کورني تاوتریخوالی سره مخ یاست، تاسو یوازې نه یاست. دا پمفلیټ تاسو سره د متحده ایالاتو قوانینو په پوهیدلو کې د مرستې لپاره دي او پوه شي چې د اړتیا په صورت کې څنګه مرسته ترلاسه کړئ.

**په متحده ایالاتو کې د کورني تاوتریخوالي ښکار خلکو لپاره قانوني حقونه څه دي؟**

په متحده ایالاتو کې ټول خلک، د مهاجرت یا تابعیت وضعیت په پام کې نیولو پرته، د مدني او جزایي قانون لاندې اساسي خوندیتوب تضمین شوي. د کورنی اړوند قوانین لاندینی شیان تاسی ته وړاندی کوی:

ستاسو او ستاسو د ماشوم(ماشومانو) لپاره د خوندیتوب امر ترلاسه کولو حق.

ستاسو د میره یا میرمن له رضایت پرته د قانوني جلا کیدو یا طلاق حق.

د ځانګړو ازدواجی ملکیت د شریکولو حق. د طلاق په صورت کې، محکمه به هر هغه ملکیت یا مالي شتمني وویشي چې تاسو او ستاسو میره یا میرمن په یوځای لرئ.

د خپل ماشوم(ماشومانو) د ساتنې او مالي ملاتړ غوښتنه کولو حق. د 21 کلونو څخه کم عمر لرونکو ماشومانو والدین اکثرا د هر هغه ماشوم لپاره د ماشوم ملاتړ تادیه کولو اړ دي کوم چې د دوی سره نه اوسیږي.

د کورنی وکیل سره مشوره وکړئ څوک چې د مهاجرینو سره کار کوي ترڅو بحث وکړئ چې څنګه له دې څخه کوم یو کورنی قانون شرایط ستاسو سره څه اغیزه یا مرسته کولی شي.

د متحده ایالاتو قانون لاندې د هر جرم ښکار، د مهاجرت یا تابعیت وضعیت په پام کې نیولو پرته، د مرستې لپاره پولیسو ته زنګ وهلې یا د خوندیتوب امر ترلاسه کولی شي.

که تاسو یا ستاسو ماشوم(ماشومان) په خطر کې یاست نو پولیسو ته په 911 باندې زنګ ووهئ. پولیس ممکن ستاسو ودګنې، میړه یا میرمن، شریک، یا بل کس ونیسي که چیرې دوی باور ولري چې هغه کس جرم کړی دی. تاسو باید پولیسو ته د هر ډول ناوړه چلند په اړه ووایاست چې حتی په تیرو وختونو کې پیښ شوي وي، او کوم ټپونه وښایاست. هرڅوک، د مهاجرت یا تابعیت وضعیت له پامه نیولو پرته، ممکن د جرم راپور ورکړي.

همداسې، که تاسو د کورني تاوتریخوالی ښکار یاست نو تاسو محکمې ته د خوندیتوب امر لپاره غوښتنه کولی شئ. د محکمې لخوا صادر شوی د خوندیتوب امر یا د منع کولو امر ممکن ستاسو ناوړه ګټه اخیستونکی تاسو ته، ستاسو ماشوم (ماشومانو) یا د کورنۍ نورو غړو ته د زنګ وهلو، اړیکه نیولو، نږدې کیدو یا زیان رسولو څخه منع کړي. که ستاسو ناوړه ګټه اخیستونکی د خوندیتوب امر څخه سرغړونه وکړي، تاسو د پولیسو سره اړیکه نیولې شئ، څوک چې ممکن ناوړه ګټه اخیستونکی ونیسي. د محافظت امرونو لپاره غوښتلیکونه په ډیرو محکمو، د پولیسو تهانو، د ښځو په پناه ځایونو، او د حقوقي خدماتو په دفترونو کې شتون لري.

که ستاسو ناوړه ګټه اخیستونکی تاسو په جرم تورن کړي، ، خپل د مهاجرت یا تابعیت وضعیت په پام کې نیولو پرته، تاسو اساسي حقونه لرئ په شمول: د وکیل سره د خبرو کولو حق؛ د وکیل له شتون پرته پوښتنو ته د ځواب نه ورکولو حق؛ خپل دفاع کې د خبرو کولو حق. دا مهمه ده چې د مهاجرت وکیل او جرمي وکیل دواړو سره خبرې وکړئ.

**په متحده ایالاتو کې د کورني تاوتریخوالي او جنسي تیری ښکار خلکو ته کوم خدمتونه شتون لري؟**

په متحده ایالاتو کې، د جرم ښکار خلک، د مهاجرت یا تابعیت د وضعیت په پام کې نیولو پرته، د دولتي یا غیر دولتي ادارو لخوا تیار شوي مرستې ته لاسرسي کولی شي، چې پکښې ممکن مشوره، ترجمانان، بیړني کور، او حتی د پیسو مرستې شامل وي.

لاندې لیست شوي د ملي تلیفون شمیرې یا "هټ لاین" چلوونکي روزل شوي ترځو د 24 ساعتو کې  د ښکار شوي خلکو سره پرته له کوم لګښت څخه مرسته وکړي. ترجمانان شتون لري او دا شمیرې تاسو سره ستاسو په محلي سیمه کې د ښکار کیدونکو لپاره د نورو وړیا خدماتو سره اړیکه نیولې شي، په شمول د بیړني کور، طبي پاملرنې، مشورې ورکولو، او قانوني مشورې. که تاسو وکیل ته د پیسو ورکولو توان نلرئ تاسو ممکن د مهاجرت جرم یا د کورني تاوتریخوالی ښکار کیدونکو لپاره د وړیا یا کم لګښت حقوقي مرستې پروګرام لپاره مستحق و ګڼل شی.

د کورني تاوتریخوالی ملي هټ لاین
1-800-799-SAFE (1-800-799-7233)
1-800-787-3224 (TTY)
www.ndvh.org

د جنسي لاس اچونې د زور زنا کولو ملي هټ لاین، د ناوړه ګټه اخیستنې او د محرم سره زنا کولو ملي شبکه (RAINN)
(HOPE (1-800-656-4673-656-800-1
www.rainn.org

د ورک شوي او استحصال شوي ماشومانو ملي مرکز
1-800-THE-LOST (1-800-843-5678)
www.missingkids.com

د جرم ښکار کیدونکو ملي مرکز -800-1 ستاسو د معلوماتو لپاره زنګ ووهی (2255-394-800-1)
1-800-211-7996 (TTY)
www.ncvc.org

یادونه: دا هغه سازمانونه دي چې لومړنی ماموریت یې خوندیتوب او ساتنه ده.

**که زه د کورني تاوتریخوالی، جنسي تیری، یا بل جرم ښکار شم، زما لپاره د مهاجرت کوم لارې شتون لري؟**

درې لارې شتون لري مهاجرین چې د کورني تاوتریخوالی، تیری، او ځینې نورو ځانګړو جرمونو ښکار کیږي ممکن د خپل ځان او خپل ماشوم(ماشومانو) لپاره د قانوني مهاجرت وضعیت غوښتنه وکړي. د ښکار کیدونکي غوښتنلیک محرم دی او هیڅ چاته پشمول  د ناوړه ګټه اخیستونکي، جرم مرتکب یا د کورنۍ غړي په شمول، به نه ویل کیږي چې تاسو  غوښتنه کړی.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی قانون (VAWA) لاندې د قانوني وضعیت لپاره پخپله درخواستونه ورکول

د VAWA لاندې د لرې کولو لغوه کول

د U-غیر مهاجرت وضعیت (د جرم ښکار) په اړه

د مهاجرت دا امتیازات هر یو ځانګړي اړتیاوي لري چې باید موجود وی. د مهاجرت وکیل سره مشوره وکړئ څوک چې د کورني تاوتریخوالی ښکار کیدونکو سره کار کوي ترڅو بحث وکړي چې په دې کې کوم یو د مهاجرت ګټي ستاسو سره څنګه اغیزه یا مرسته کولی شي.

**د واده پر بنسټ د مهاجرت پروسه څنګه کار کوي؟**

د واده پر بنسټ د مهاجرت پروسه په متحده ایالاتو کې د قانوني مهاجرت وضعیت ترلاسه کولو لپاره او د وخت په تیریدو سره، د تابعیت ور کیدو لپاره ډیری مرحلې شاملې دي. دا مراحل د واده پر بنسټ د ویزې ډول پورې اړه لري چې تاسو پرې متحده ایالاتو ته سفر کوئ، او همدارنګه نور عوامل. لاندنی معلومات د دې ډول ځینې ویزو عمومي کتنه ده، او همدارنګه ستاسو د قانوني حقونو په اړه معلومات.

K-1 د غیر مهاجر وضعیت (د متحده ایالاتو د یو تبعه د ودګنی (ودګنو) په توګه): تاسو له پکار دي چې د ننوتلو په 90 ورځو کې دننه یا د متحده ایالاتو تبعه سره واده وکړئ یا متحده ایالات پریږدئ. د متحده ایالاتو تبعه ودګنی (ودګنو) سره ستاسو له واده وروسته چې ستاسو لپاره یې عریضه کړې، تاسو باید د دایمي استوګنې ثبتولو یا د وضعیت تنظیمولو لپاره غوښتنلیک وسپارئ (فورم I-485). که ستاسو I-485 فورمه منظوره شي، ستاسو وضعیت به د K غیر مهاجر څخه د مشروط دایمي اوسیدونکي سره تنظیم شي. تاسو به د دوو کلونو لپاره دا شرطي وضعیت ولرئ.

که تاسو په متحده ایالاتو کې پاتې شئ پرته لدې چې د متحده ایالاتو تبعه سره واده وکړئ چا چې ستاسو د K-1 ویزه سپانسر کړې، یا له بل چا سره واده وکړئ، تاسو به د خپلې ویزې شرایط سرغړونه کوئ، تاسو هیڅ قانوني حیثیت نلرئ او تاسو ممکن د لیرې کولو پروسې یا نورو جریمو سره مخ شئ.

K-3 *د غیر مهاجر وضعیت* (د متحده ایالاتو د تبعه د میره یا میرمن په توګه): تاسو ته په موقتي توګه متحده ایالاتو ته د ننوتلو اجازه درکول کیږي پداسې حال کې چې د کورنۍ پر بنسټ د ویزې عریضې (I-130) تصویب ته انتظار کوئ. کله چې I-130 منظور شي، تاسو د قانوني دایمي استوګنې (ګرین کارت) مستحق ګڼل کیږی او باید چې د دایمي استوګنې راجستر کولو یا د وضعیت تنظیم کولو لپاره غوښتنلیک درج کړئ (فورم I-485).

نور ټول د واده پر بنسټ د مهاجرت وضعیت لرونکي باید هغه معلوماتو ته مراجعه وکړي چې د متحده ایالاتو د قونسلګرۍ لخوا دوی ته ورکړل شوي. اضافي معلومات http://www.uscis.gov باندې آنلاین موندل کیږی.

**د واده د دهوکې لپاره سزاګانې څه دي؟**
هغه مهاجرین چې په واده کې دهوکه کوي هغې ممکن د ایستلو پروسې سره مخ شي او ممکن په متحده ایالاتو کې د راتلونکې مهاجرت ګټې ترلاسه کولو نه منع شي. د واده د دهوکې جزا تر پنځو (5) کلونو پورې قید او تر 250,000 ډالرو (د متحده ایالاتو پیسی) پورې جرمانه کیدی شي.

**که زه د متحده ایالاتو تبعه سره واده وکړم چا چې زما له اړخه د مهاجرت اسناد جمع کړي، زما د مهاجرت وضعیت څه دی؟**

که ستاسو د واده موده له 2 کالو څخه کم وي کله چې ستاسو فورمه I-485 قبوله شي، تاسو به د USCIS څخه د مشروط استوګنځی وضعیت ترلاسه کړئ. ستاسو د مشروط استوګنځی د دویمي کلیزې څخه نوي (90) ورځې مخکې، تاسو او ستاسو میره یا میرمن باید په یوځای غوښتنه وکړئ ترڅو ستاسو د قانوني استوګنځی شرایط لرې شي. د دې لپاره، تاسو باید ثابت کړئ چې واده په "ښه باور" او اعتباری دي. کله چې شرایط لرې شي، تاسو دایمي استوګنې لرئ کوم چې ستاسو د متحده ایالاتو په میره یا میرمن پورې تړاو نلري.

که ستاسو د واده موده له 2 کلونو څخه زیاته وي کله چې ستاسو I-485 فورمه تصویب شي، تاسو به د USCIS څخه د دایمي استوګنځی وضعیت ترلاسه کړئ. په دې نیته به تاسو نور د مهاجرت دریځ لپاره خپل د متحده ایالاتو تبعه میره یا میرمن پورې تړاو نلرئ.

دلته درې حالتونه شتون لري کله چې قانون مشروط اوسیدونکو ته د دې اختیار اجازه ورکوي چې د شرایط د معافیت غوښتنه وکړي چې تاسو او ستاسو میره یا میرمن په ګډه جمع کړي ترڅو د شرایطو د لرې کولو غوښتنه وکړي. 1) له متحده ایالاتو څخه د مشروط اوسیدونکي ایستل به د خورا سختۍ پایله ولري؛ یا 2) واده په قانوني توګه پای ته رسول شوی و، پرته له مرګ څخه، او غوښتونکی د هغه یا هغې وضعیت د مشروط اساس د لرې کولو لپاره په خپل وخت کې د غوښتنلیک د سپارلو په پاتې راتللو کې تقصیر نه وه؛

یا 3) د واده په جریان کې د متحده ایالاتو تبعه یا قانوني دایمي اوسیدونکي میره یا میرمن مشروط اوسیدونکي د دروغګوني یا خورا ظلم سره مخ کړي وي. ټول درې معافیتونه په I-751 فورمه کې ثبت شوي او تاسو باید چې ثابت کړئ چې ستاسو واده په "ښه باور" کې و او نه په درواغو.

**د متحده ایالاتو دولت په کومو نورو لارو هڅه کوي چې بهرنی ودګنی او میره یا میرمنې د دوی د حقونو په اړه خبر کړي او دوی او د دوی ماشومان له ناوړه چلند څخه خوندي کړي؟**

د 2005 کال د واده د دلال نړیوال مقرراتو قانون (IMBRA) په متحده ایالاتو کې یو قانون دی چې د واده پر بنسټ د مهاجرت پروسه یې بدله کړه ترڅو د بهرنیو ودګنو او میرو یا میرمنو سره مرسته وکړي. IMBRA لازمي ګڼي چې د متحده ایالاتو دولت د مهاجرت بهرنی ودګنی (ودګنو) او میرنو یا میرمنو ته معلومات او د ځان سره د مرستې وسیلې چمتو کړي ترڅو د هغو شریکانو لخوا د تاوتریخوالي پروړاندې د دوی په ساتنه کې مرسته وکړي څوک چې د دوی ویزې ملاتړ کوي. د مهاجرت ودګنی(ودګنو) او میره یا میرمن زیاتره

د متحده ایالاتو له قوانینو څخه نابلد وي او د کورنی یا ملګرو لخوا یې ملاتړ نه کیږي ترڅو په کور کې له تاوتریخوالي څخه په امان کی پاتی شي.

IMBRA لازمي ګڼي چې دا پمفلیټ ولیکل شي او وویشل شي ترڅو تاسو ته د قوانینو او خدمتونو په اړه ووايي چې تاسو سره په متحده ایالاتو کې مرسته وکړي که چیرې تاسو سره ناوړه چلند وشي. IMBRA د متحده ایالاتو ښاریو ته د بهرنیو ودګڼی (ودګنو) لپاره د څو ویزو ملاتړ کولو څخه منع کوي که چیرې دوی د تاوتریخوالي جرمونو سابقه ولري. IMBRA د متحده ایالاتو له دولت څخه غوښتنه کوي چې د متحده ایالاتو اتباعو بهرني ودګڼی (ودګنو) او میرنو یا میرمنې ته د جرمي سوابقو (بیګروند) کتنې یوه کاپي ورکړي چې USCIS د متحده ایالاتو اتباعو کفیلانو باندې کوي، او همدارنګه د ویزې ملاتړ کولو غوښتنلیک یوه کاپي.

**د متحده ایالاتو دولت څنګه د "نړیوال واده دلالانو" تنظیموي؟**

که چیرې یوه اداره د "نړیوال واده دلال" په توګه وړتیا ولري، نو دا اړینه ده چې تاسو ته د متحده ایالاتو پیرودونکي په اړه د سوابقو معلومات درکړي څوک چې تاسو سره اړیکه نیول غواړي، د فدرالي او دولتي جنسي مجرمینو عامه راجسترونو کې موجود معلوماتو په شمول، او د متحده ایالاتو پیرودونکي ته ستاسو د اړیکې معلوماتو ورکولو دمخه خپل لیکلي اجازه درکړي. اداره اړ ده چې تاسو ته د دې پمفلیټ یوه کاپي درکړي. دا ستاسو سره د سوداګرۍ کولو څخه منع دی که تاسو عمر د 18 کلونو څخه کم وي.

**آیا زه د خپل متحده ایالاتو تبعه ودګڼی یا میره یا میرمن باندې د جرمي سوابقو معلوماتو باندې باور کولی شم؟** د اداری لخوا راټول شوي د جرمي شالید معلومات د بیلا بیلو دولتی سرچینو څخه راځي، او همدارنګه د مهاجرت غوښتنلیکونو په اړه د متحده ایالاتو اتباعو مراجعه کوونکو لخوا چمتو شوي معلومات. USCIS په متحده ایالاتو کې د جرمي تاریخ ټولو معلوماتو ته لاسرسی نلري. د متحده ایالاتو تبعه کفیل ممکن د ملاتړ غوښتنلیک کې حقیقت ونه وايي. دا هم ممکنه ده چې د متحده ایالاتو تبعه د ناوړه چلند تاریخ ولري مګر هیڅکله نیول شوی یا محکوم شوی نه و.

نو ځکه، د جرمي شالید معلومات چې تاسو یې ترلاسه کوئ ممکن پوره نه وي. د IMBRA غواړی چې د مهاجرو ودګڼی(ودګنو) او میړو یا میرمنو ته موجود معلومات او سرچینې چمتو کړي. په پای کې تاسو مسؤل یاست چې پریکړه وکړئ چې آیا تاسو په خپلوي کې خوندي احساس کوئ.

**آیا بهرنی ودګڼی یا میره یا میرمن چې د کورني تاوتریخوالي ښکار دي هم د انساني قاچاق ښکار کیدی شي؟**

د استحصال نور ډولونه د بشري قاچاق په شمول ځیني وختونه د کورني تاوتریخوالی تر څنګ پیښیدی شي، کله چې په استصحال کې مجبور یا په زور کار، خدمات، یا سوداګریز جنسي عملونه شامل وي.

د انساني قاچاق په هکله مرسته په دې ځای کې موندل کیدی شي:

د انساني قاچاق د منابعو ملي مرکز
1-888-373-7888

(په ورځ کې 24 ساعته، په اونی کې 7 ورځې) www.acf.hhs.gov/trafficking

د انساني قاچاق او کارګرانو د استحصال کاري ځواک هټ لاین، د امریکا د عدلی وزارت
1-888-428-7581

(دوشنبه - جمعه، د سهار له 9 بجو څخه تر ماښام 5 بجو پورې) www.usdoj.gov/crt/crim/tpwetf.php

نور معلومات زمونږ په ویب پاڼه یا لاندې لیست شوي وړیا شمیرې ته د زنګ وهلو له لارې موندل کیدی شي.

***د USCIS عمومي معلومات***

په متحده ایالاتو کې، وړیا شمیرې ته زنګ:
1-800-870-3676 **یا**

زمونږ د انټرنیټ ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: http://www.uscis.gov